د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
پکتیکا پوهنتون
د علمي او محصلانو چارو معاونیت
د نظم، دیسپلین او سپورت کمېټه

# د انصاف او عدالت پالیسي

په ټولو امورو کې د لوړو زده کړو محترم وزارت په چوکاټ کې د انصاف او عدالت اصل پلي کول، پرته له تبعیض څخه د پوهنتون د لومړیتوبونو په سر کې قرار لري، چې مونږ به په دې پالسي کې د استادانو په ګمارلو، اداري او خدماتي کارمندانو او د محصلینو جذب، د استادانو هڅونه، د بورسونو ویشنه، ترفیعات، مجازات او مکافات، محصلانو ته د نمرو په ورکړه کې، د استادانو په ارزونه او نورو موارد‌و کې د بحث لاندې ونیول شي.

**موخې**

د انصاف او عدالت پالیسي د لاندینیو موخو لپاره وضع شوې ده.

۱- د انصاف او عدالت اصل په نظر کې نیولو سره د استادانو ګمارنه او ورځني فعالیتونه لکه :د مضامینو عادلانه ویشنه ، د کنفرانسونو ارزیابي، مقالي، تالیفي او تحقیقي اثار، ترفیعات، بورسونه، د کمیټیو او شوراوو تنظیم، په سیمینارونو او ورکشاپونوکي معرفي کول

۲-د اداري او خدماتي کارمندانو جذب، تقرر ، لوړتیا، او امتیاز اتو کې د انصاف او عدالت اصل په نظر کې نیول

۳-د محصلینو په ارزیابی او نمرو ورکولو کې د عدالت او انصاف اصل په نظر کې نیول.

۴- په استادانو، محصلینو، اداري او خدماتي کارمندانو باندې د لوړو زده کړو وزارت قوانین، مقررات لوایح او پالیسی د یو شان پلي کول

۵- د ښېرونو، بروشرونو او کنفرانسونو له لارې د قوانینو، مقررو، لوایحو، او پالیسیو ترتیبول

**د انصاف او عدالت د تامین په برخه کې د پوهنتون برنامې**

**الف) د استادانو، اداري او خدماتي کارمندانو په ګمارنه کې د انصاف او عدالت پالیسي**

۱- کادري بستونه د پوهنتون او د لوړو زده کړو وزارت په سایټ کې اعلانیږي او د استادانو جذب د ازاد رقابت له لارې انتخابیږي.

۲-د اداري کارمندانو تر څلورم بست پورې د ازاد رقابت له لارې د پوهنتون او د لوړو زدکړو محترم وزارت په سایت کې اعلان او د ملکي خدمتونو د ازمویني په اساس صورت نیسي.

۳-د پوهنتون د اړتیا وړ خدماتي کارمندان د ازاد رقابت له لارې او د فزیکي وړتیا په نظر کې نیولو سره او د ملکي خداماتو د هیئت په وړاندې ټاکل کیږي.

۴-په دیپارتمنتونو کې د علمي بستونو ویش د دیپارتمنتونو د اړتیا په اساس د محصلینو په تناسب سره (۳۰/۱) د مضامینو تعداد او د درسي ساعتونو په مطابق او د استاد د مکلفیتونو سره د پوهنتون تطبیقي پلان کې یوځای کیږي.

۵- د اداري بستونو او نورو اداري بخشونو ویش په پوهنځی کې د اداري د اړتیا او د کار د حجم مطابق د کارمندانو په تناسب سره له محصل(۷۰/۱) په اداري جلساتو کې د پوهنتون د تطبیقي پلان سره یوځای کیږي.

۶- د پوهنتون علمي معاون، اداري معاون او د پوهنځیو رئیسان پدې برخه کې جدي څارنه او مراقبت کوي.

**ب) د درسي ساعتونو په ویش کی د انصاف او عدالت پالیسي**

د ورځني درسونو ویش په څانګو کې د استاد د مکلفیت په اساس د لوړو زدکړو محترم وزارت د لوایحو سره سم پلي کیږي. د څانګو علمي شوراګاني او هم د پوهنځی علمي شورا د عدالت د تأمین پدې برخه کې نظارت کوي. که کومه ستونزه د استاد په اړه رامنځته شوه، استاد کولای شي چې خپله ستونزه په مستقیم ډول د پوهنځي له رئیس، علمی معاون او آن د پوهنتون له رئیس سره شریکه کړي او یا په چټک ډول خپل شکایت د پوهنځي د شکایتونو په صندوق او یا پوهنتون کې واچوي.

**ج) د لنډمهاله او اوږد مهاله بورسونو په ویش کې د انصاف او عدالت پالیسي**

پوهنتون ریاست د استادانو او کارمندانو ظرفیت لوړوالو ته ژمن دی او هر بورس چې پوهنځي ته راجع کیږي، لومړی د بورسونو د چارو اړوند کمیټې ته لیږل کیږي او اړتیا سره سم ځانګو ته لیږل کیږي او هغه چې په اداري برخه پورې اړوند وي د پوهنځی علمي شورا ته راوړل کیږي په ځانګړتیاوو برابر استاد، محصل او یا مامور ته ورکول کیږي.

**د) سیمینارونو او ورکشاپونو ته د استادانو، کارمندانو او محصلانو معرفي کول**

د پوهنتون نه بهر ورکشاپونو ته د محصلانو، کارمندانو او استادانو معرفي د ځانګو او پوهنځی لخوا له ځانګړتیا سره برابر صورت نیسي او د پوهنتون په داخلي ورکشاپونو کی اړتیا او وړتیا ته په کتو کس معرفي کیږي تر څو له یو خوا د هغو د پرمختګ او له بلې خوا د پوهنځی او ځانګو د پرمختګ لامل شي.

**هـ) د ازموینی د پایلي د شفافیت په اړه د انصاف او عدالت پالیسي**

**۱.د سمیستر منځنی ازموینې**

په منځنی ازموینو کې د شفافیت لپاره د پوهنځی د علمي شورا څخه د لوړو زده کړو محترم وزارت لوایحو او مقرراتو په چوکاټ کې نیته ټاکل کیږي استاد ته دنده ورکول کیږي چې په ټاکل شوي نیته ازموینه واخلي او وروسته د استاد لخوا محصلانو ته په مؤقت ډول پرچې ورکول کیږي تر څو محصلانو ته په ورکړل شویو نمرو باندې قناعت حاصل شي.

**۲.د سمیستر په نهایي ازموینه کې**

مختلفي کمیټي چې ترکیب کی یې استادان، د دیپارټمنت په سطحه، د پوهنتون او پوهنځي په سطحه تشکیل کیږي دا کمیټي هره ورځ د ازموینو نه لیدنه کوي او راپور یې هره ورځ د کمیټې مربوطه کتاب کې درج کیږي او د ازموینې پای کې په لیکلي ډول سره د محصلانو چارو معاونیت ته رسوي. دا هیئت د سوالونو ډول، د صنف داخلی نظم، د امتحان نیته، په خپل وخت سره د ازموینی پیل، په ټولګي کې د ممتحن استاد او ممیز شتون، د ازموینی لپاره مناسب ځای او د محصلانو رضایت له ازموینې نه داد ورکوي.

۳.د ازموینی پایلې د هرې پوهنځی د تدریسي مدیریت لخوا رسماً اعلانیږي او محصلان د ازموینې د لایحې سره سم کولی شي چې په خپلو ترلاسه شویو نمرو د نه قناعت په صورت کې تر درو ورځو پورې د خپلې پارچې د بیا کتنی لپاره معترض شي. په پارچه باندی بیا کتنه د دریو تنو استادانو او د معترض کوونکي محصل په شتون کې د سوالونو د کلي مطابق ترسره کیږي. د بیا کتنی په جریان کې د معترض محصل شتون د شفافیت، انصاف او عدالت لپاره اعتماد زیاتوي.

**و) د ټولنیزو اخلاقو په مراعات کولو کی د انصاف او عدالت پالیسي**

د پوهنتون د تضمین کیفیت مرکز، د مختلفو تعصبونو او سلیقوي برخوردونو د مخنیوي او د یو اخلاقي چاپیریال د رامنځته کولو په خاطر د پوهنتون کې د اخلاقو پالیسی تدوین کړه. په دې پالیسی کې په واضح ډول بیان شوي دي چې هر ډول تخلف له هرې مرجع نه چې ترسره کیږي د لوړو زده کړو او د هیواد د نافذه قانون سره سم به سوال او ځواب ورسره کیږي.

**ز) د شکایاتو په ارزونه کې انصاف او عدالت پالیسي**

نوموړی طرزالعمل دپوهنتون د کیفیت د لوړولو د کمیټې لخوا ترتیب شوی دی.په دې طرزالعمل کې په مفصله توګه د محصلانو استادانو او اداري کارمندانو د شکایتونو ته د رسیده ګی لاربښوونه شوي ده او پوهنتون د نوموړي طرزالعمل په عملي کولو کې ژمنه ده.

**ح) د کار قانون په برخه کې د عدالت او انصاف پالیسي**

۱.د کار د قانون مطابق، خدماتي او اداري کارمندان له شنبې نه تر چهار شنبې هره ورځ د سهار له ۸ څخه د مازدیګر تر ۴ بجو پورې او د پنجشنبې په ورځ له ۸ څخه تر ۱ بجې پورې په پوهنتون کې په اداري کار مصروف وي. هغه کارمند چې په خپل سر پرته له دې چې خپل آمر خبر کړي وظیفې ته را نشي ناسوب حسابیږي.

۲.محصلان دا مکلفیت لري چې په تعین شوي ساعتونو کې په هر سمیستر کې حاضر وي هر استاد خپله ځانګړي حاضري لري او محصل چې حاضر نوي ناسوب حسابیږي. د محصل شمولیت او محرومیت په ازموینه کې د هر استاد ځانګړي حاضري همغه چې ۷۵٪ حاضر او ۲۵٪ غیر حاضر وي محاسبه کیږي هیڅ کومه مرجع د استاد په ځانګړي حاضری کې د لاسوهنې حق نلري.

**ط) د مجازاتو او مکافاتو د تطبیق په اصل کی د عدالت او انصاف پالیسي**

د پوهنتون د مجازاتو او مکافاتو د اصل تطبیق ته ژمنه ده او د مالي توانایي سره سم هغه استادان او محصلان چې وړتیا لري حمایت کیږي. د هغو محصلانو لیست چې تشویق شوي په علمي او اداري شعبو کې موجود دي.

**ی) د استادانو د ترفیعاتو او د موضوع تعین کولو برخه کې د انصاف او عدالت پالیسي**

د استادانو د موضوع په تعین کولو کې محقق شخص عمده او اساسي رول لري د تحقیق استاد درې عنوانه د خپل تحقیق لپاره ټاکي او دیپارټمنټ د تحقیق لپاره هغه عنوان غوره کوي، چې زیاته اړتیا ورته لري. د استادانو ترفیعات د لوړو زده کړو محترم وزارت د قانون مطابق په ځانګړي وخت کې د دیپارتمنت شورا، د پوهنځی علمي شورا، د پوهنتون تحقیق کمیټي، او د پوهنتون علمي شورا لخوا طی مراحل کیږي.

**ک) د اداري او خدماتي کارمندانو د ترفیعاتو په برخه کې د انصاف او عدالت پالیسي**

پوهنتون د ملکي خدمتونو قانون او د کار قانون له مخې د دریو تنو اداري کارکوونکو او دوه ؤ تنو اجیرانو د دندو لایحو، کلنی پلانونو، ګزارشونو او کړنو سره سم ارزونه ترسره کوي. پوهنتون د دوی ټولو اداري او خداماتي چارو ته درنښت لري او لازمو امتیازاتو ورکولو او اسانتیاؤ چمتو کولو ته ژمنه ده.

**د انصاف او عدالت پورتنی پالیسي د پوهنتون د علمي شورا په (۲۲/ ۴ / ۱۴۰۴ هـ ش) او ( ۴ ) ګڼه پروتوکول غونډه کې د رایو په یو والي سره تائید شوه.**

**تائید کوونکی**
پوهنمل محمد ..... واحدیار
د علمي او محصلانو چارومرستیال

**ترتیب کوونکی**
پوهنیار میاخان محمدي
د نظم دیسپلین عمومي کمېټي مسؤل

**منظور کوونکی**
مولوی سید محمد داود آغا الهاشمي
د پکتیکا پوهنتون رئیس